# د ویښتیایي الهام په بڼه، د ډاکټر نجیب بیا ظهور

**د تېرو ۱۶ کلونو پشان سږکال هم د تلې میاشتې په پنځمه، د افغانستان د پخواني ولسمشر ډاکټر نجیب الله د شهادت ورځ ، په هیواد کې دننه په یو لړ مراسمو سره چې له پخوانو هغو یې زیات توپیر او برم درلود ، ولمانځل شوه .**
**د رسنیو له مخې دا ځل د شهادت شپاړسم تلین د ملي روغې جوړې په سیاسي تکلارې سره چې د افغانستان د کړکیچ د حل په تړاو د ډاکټر نجیب د اندیښنو او سیاستونو منځتکی جوړوي، کابل کې د وطن ګوند د بیا احیا لپاره د هغه ګوند د سترې غونډې له پرانیستې سره مل وه .**

د BBC پښتو څانګې، بریښناپاڼه کې په دې اړوند، لولو « نن په کابل کې د افغانستان د پخواني ولسمشر ډاکټر نجیب الله شپاړسم تلین ونمانځل شو. په هغه غونډه کې چې په دې اړه په کابل ننداري کې جوړه شوې وه، د وطن ګوند پر لسګونو پخوانیو غړو سربېره یو شمېر ځوانانو هم ګډون کړی وو.

د ډاکټر نجیب الله پلویان وایي، دوی به خپل ګوند په پښو دروي او د ډاکټر نجیب الله کورنۍ به یې مشري پر غاړه اخلي. »

همدارنګه BBC د نوموړي خبر په بله برخه کې چې په تفصیل یې رااخیستی، زیاتوي « له تېرو څو ورځو راهیسې د کابلښار په ځینو واټونو کې د ډاکټر نجیب الله یو شمېر انځورونه او ویناوې تر سترګو کېږي. »

د افغانستان ملي تلویزیون هم د لومړي ځل لپاره، د ډاکټر نجیب د بنیاد لخوا د هغه جوړې شوې لویې غونډې خبر خپور کړ چې ګډونوالو یې له افغان دولت څخه غوښتنه کوله چې د ډاکټر نجیب الله د شهادت قضیه دې وپوښتل شي او د هغه په کور دننه قاتلین دې وپېژندل او د قانون منګولو ته دې وسپارل شي . ګډونوالو په دې هم ټینګار کاوه چې جنرال حمیدګل، خدای وهلی جنرال نصیرالله بابر او د ای ایس ای د هغه مهال نور لوړپوړي چارواکي دې د قضیې د اصلي طراحانو پتوګه د نوموړي د شهادت په قضیې کې ښکېل وګڼل شي او تر پوښتنې لاندې دې راشي .

بلخوا د بیات بنیاد تلویزیون د ډاکټر نجیب د شپاړسم تلین په اړه د جوړې شوې غونډې خبر داسې خپور کړ چې ګډونوالو یې له افغان دولت څخه غوښتنه کوله چې د اریانا چوک دې د ډاکټر نجیب په نوم ونومول شي . په اریانا چوک کې د ۱۹۹۶ کال د سیپټمبر په ۲۷ د ای ایس ای په طرحه او د طالبانو په لاس، ډاکټر نجیب الله او د هغه ورور احمدزی د ملګرو ملتونو له حریم څخه چې هلته یې سیاسي پنا اخیستې وه ، د ټولو نړیوالو اصولو په خلاف په زور راوایستل شول، لومړی شهیدان او بیا په نوموړي چوک کې راځوړند کړی شول .

ډاکتر نجیب ته یو زیات شمېر افغانان د یوه داسي سیاسي شخصیت په سترګه ګوري چي د افغانستان د راتلونکي په اړه یي ډېرې وړاندویني ریښتیا ختلي دي. د هغه مهال د سیاسي څواکونو او په دولتي واک کي د ټولو د ګډون په اړه د ډاکتر دې طرحي « **راه حل افغانستان کنار رفتن نیست بلکه کنار آمدن است**»، زیات شهرت میندلی دي.

**دغه طرحه له ۲۰ کلونو روسته هم ، دومره مشهوره او د کاروړ ګڼل کېږي چي د ډاکتر نجیب د هغه مهال مخالف څواکونه نن، په هغې طوطي وار شخوندونه وهي او طالبانو ته وايي چي دوی سره روغې جوړې او په دولتي واک کي د ګډون لپاره تیار دي، خو که اوس یي طالبان ومني او روغې جوړې ته حاضر شي!**

**بلخوا** ډاکتر نجیب په دې اند و ، پاکستان او ایران کي اسلامي تنظیمونه ، ددې لپاره نه وو رامنځته شوي چي د افغانستان په خیر، سرلوړی او پرمختګ دې فکر وکړي . نو ځکه ډاکتر اندېښنه درلوده کله چي دا څواکونه د نړیوالو او ګاونډیو هیوادو له ټاکلو تضمینونو پرته، پخپل سر دولتي واک تر ګوتو کړي، کابل او افغانستان کي به د وینو لښتې او بیالي وبهېږي، کور په کور او کوڅه په کوڅه به جګړه وي او مجاهدین به د اوسني کابل پرځای، د کابل پر کنډوالو حکومت کوي . افغانستان به د مړو هدیره وي او د جهادي تنظیمو مشران به یي پاچایان !

اوس دا وړاندوینه هم تر ډېره ځایه ریښتیا ختلې !

بلخوا ډاکتر، لویدیځ او په تېره بیا امریکا پرلپسې په غوږ وهله او داسي یوه مرکه یي اوس هم په یوتیوب کي د اوریدو او لاسرسي وړ ده چي هلته ډاکتر وایي که لویدیځ نور هم له نړی څخه پاکستان ته مذهبي توندلارې را اشر کړي او لا یي پیاوړي کړي، همدغه توندلارې به سبا افغانستان، امریکا او لویدیځ ته په دوهم ویتنام واړوي .

اوس د افغان ولس په منځ کي دا ګونګسی چي ډاکتر نجیب، پنجابي واکمنانو د ډیورند د تپلي کرښي د نه منلو په لامل، شهید او بیا یي په اریانا چوک کي ځوړند کړ، د یوه حقیقت پتوګه ګڼل کېږي او ډیری افغانان همداسي فکر کوي . د ډاکتر نجیب له شهادته روسته، د افغانستان په وړاندې د پنجاب د لاسوهنو او تیریو دوام څرګندوي چي د ډیورندکرښې پر سر افغانستان سره د پنجاب دوښمني تاریخي ریښه لري. دا چي ولسمشر کرزي ویلي ، که افغانستان کي خادم حرمین شریفین هم واکمن شي ، د پنجاب واکمنان یي نه مني او په افغانستان کي به خپلو لاسوهنو او تیریو ته ادامه ورکوي!

د ډاکتر د شهادت د شپاړسم تلین په مهال دا یوه خبره باید هغه دوستانو ته چي ځانونه د هغه پلویان او لارویان بولي له غوږه تېره شي چي ډاکتر یوازې په یوه ګوند او سیاسي ډلې پورې تړلي ونه بولي ، بلکې هغه په ټول افغان ملت پورې اړه لري . د ډاکتر په سیاسي کړنلار کي چي عمده برخه یي د جګړې بندښت ، ملي روغه جوړه ، اعتدال ، منځلاریتوب ، پرمختګ او د اجتماعي عدالت ارمانونه او میتودونه تشکیلوي، موخه دا ده چي ټول افغانان پر یوې چرګی راټول شي .

**اروا دې ښاده وي !**

**د ۲۰۱۲ کال د سیپتمبر ۲۷ مه**

**سرلوڅ مرادزی**